# Tole Pashtun / ټول پښتون

# ټول پښتون

د پښتون انجمن خپرونه

دویمه ګڼه | دویم کال | ۱۹۹۱ اپریل - اګست

د دهلي تخت هېروومه
چه را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا
د غرو سرونه

خاصه ګڼه

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زماني خوشحال خټک یم



ځان به ویښ کړو هري خواته    هري خواته رقیبان دي

یو په بل موسره وژني    وائي خپل يو - غليمان دي
(احمدشاه بابا)

د پښتون انجمن دویم نړیوال کانګرس

په مقابل کې مسئولیت لري او د ضرورت په وخت کې یو د بل سره ملا تړي چې پدې ډول د فرد، ټولنې او ټول ولس ژوند د خطر نه وساتي لکه چې د پښتنو په تاریخ کې ډېر داسې مثالونه روښانه دي. په کلي او سیمه کې د ضرورت له مخې یو د بل سره مرسته کوي. د پښتنو په ټولنه کې فردي ازادي تضمین او هیڅوک حق نلري چې هغه سلب کړي. یواځې هغوی د خپل مشر نه، چې ځنې وختونه د هغه د ښیګڼې لپاره وي، په ازادي کې یې لږڅه کمې راځي. همداسې هیڅوک حق نلري چې د پښتون د کورنې، ټبر، قوم، قبیلې او ولس خپلواکي راکمه یا یې مخه ونیسي. د پښتنو په ازادي باندې مینتوب هغوی ته اجازه نه ورکوي چې د پردیو باداري یا د هغوی غلامې پرځان باندې ومني. دا د پښتنولي سبق دی چې له ورکتوب نه یې د هر پښتون په وینو کې ځای نیولی او په دماغ کې یې کینستلی دی.

پښتنولي موږ ته ښيئي چې پښتون ولس داسې ټولنه ده چې هلته قانون او نظم شته، هغه د لوړ کلتور خاوند او ځانته سلامت ټولنیز دیموکراتیک سیستم لري. هغه ځانته نړیلید (ایډیولوژي) لري، چې هغه پښتنولي ده. پښتنولي ګډوډي او انارشي نده، هغه د اقتصادي، تخنیکي او ټولنیز پرمختګ په ضد نده، بلکې د هغوی د ودې لپاره یو ټینګ بنسټ او مرسته کوونکې ده.

د پښتنولي او عنعنوي سیستمونو څېړنې د دولت لپاره دا ګټې لري چې د انکشافي پلانونو لپاره د پښتنو یا عنعنوي ټولنو په دودونو او د هغوی د ژوندانه په خصوصیاتو ځان پوه کړي. د هغوی په نظر کې له نیولو سره د ټولنې د ضرورت او قناعت له مخې خپل انکشافي پلانونه طرح او پیل کړي. پدې ډول دولت د ولس ملاتړ ترلاسه کوي او د هغه ګډون د هیواد په ټولو پرمختیایي پلانونو کې ورته لویه سیاسي او اقتصادي خپلواکي ور په نصیب کوي.

د پورته لنډې څېړنې نه معلوم شول چې پښتنولي د پښتنو په ژوندانه کې خاص اهمیت لري. هغه کوم له «موډه ولیدلې» او د وخت نه تیر شوی او «زوړ» ندی. هغه د پښتنو نړیلیدنه او د هغوی د عنعنوي سیستم جوړوونکې او له ژوند نه، نه بیلیدونکې ده. څوک چې پښتنولي هیروي، د غرب یا شرق د سیستمونو په کاپي کولو پسې منډې وهي، ما ته هغه داسې ښکاري لکه سړی چې زر په جستو بدلوي. ***



ډاکتر کبیر ستوری:

## پښتو او پښتنولي

پښتو او پښتنولي یو له بل سره نه شلیدونکې اړیکې لري. پښتنولي د پښتنو ولسي سیستم دی چې سیاسي، ټولنیز او حقوقي خوی لري او بنسټ یې په جرګه ولاړ دی. د جرګې سیستم بیا د انساني ټولنې د ودې په تاریخ کې د هغې ټولنو محصول دی چې د جرمني پوهان ستاین Stein د اټکل له مخې پنځلس زره کاله د مخه منځ ته راغلی دي. دا ددې مانا لري چې د پښتون قام چې د جرګې سیستم لا پخې تر اوسه رواج لري، د نړۍ د لرغونو قامونو په ډله کې راځي چې د پنځلس زره کلو نه اوږد تاریخ او بډای کلتور لري. ددې اوږد تاریخ او بډای کلتور په نتیجه کې د پښتون لفظ هم یوه کلتوري اصطلاح ګرځېدلې ده چې پښتو او پښتنولي یې ډېر جوړوي.

پښتنولي درې ښې لري چې لمړنۍ او تر ټولو مهمه ښه یې پښتو ده. پښتو یواځې د پښتو ژبه نده، بلکې د یو شمیر صفتونو مجموعه ده لکه پت، ښیګړه، توره، ورورولي - چې هر پښتون یې که موږ وي او که غریب بایده دي چې ویې لري. همدا خبره خوشحال خان بابا هم تائیدوي چې وایي:

درست پښتون د قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

د خوشحال خان بابا پدې شعر کې یواځې د پښتنو حد او پوله په ښه شوي ندي، بلکې دا هم را په ګوته شویده چې پښتو د پښتنو ګډه ښکلا ده. ننګ، چې د پت میړانې او توري په شان د پښتو یوه برخه ده د هر پښتون ښایست دی او هیڅ پښتون پدې ښایست کې د بل نه کم ندی. د پښتنولي ټولنیز (جمهوري یا دیموکراتیک) خوی لدې کبله په پښتو کې پروت دی.

د پښتنولي بله ښه دودونه او نرخونه دي لکه سوله، ننواتې، روغه جوړه، ناغه او داسې نور.

د پښتنولي دریمه پښه پیغور دی. د پیغور په واسطه د پښتنو پښتو، یعني صفتونه په پوښتنه کې اچول کیږي. او پښتانه د خپلو دغو صفتونو د ساتلو په غرض په حرکت راځي. لنډه دا چې پښتنولي یو بشپړ ولسولي (جمهوري) سیستم دی چې د پښتني ټولنې ټولې ربړې پخپله حلولی شي. او د بشپړ سیستم دری نښې چې ساتندویه کسان، یوه نظریه او یو د تبلیغاتو ځای لري. د پښتنولي نظریه پښتو، ساتندویه یې جرګه ده او د تبلیغاتو ځایونه یې کورنۍ اوجره او دیره دي.

موږ پښتانه لکه ځنګه چې د پښتو او پښتنولي په رڼا کې وښودل شول، یواځې ژبني او کلتوري وحدت نه یو بلکې جغرافیایي او مذهبي وحدت هم یو. او د ټولو نه غټه خبره دا ده چې اقتصادي وحدت هم یو. خو دا چې موږ ددې ټولو او خپل ماره کلتور سره سره دومره خوار یو، علت یې دا دی چې موږ په زور سره په دوو هیوادو کې ویشل شوي یو او موږ نه پریږدي چې سیاسي وحدت وګرزو چې زموږ د ولس ټینګه اراده ده.

د نړۍ اوسنی سیاسي پړاو چې په زور سره ویشل شوو ولسونو د یووالي او خپلواکي پړاو دی - چې ځنې په زور سره ویشل شوي ولسونه لکه جرمنیان او یمنیان یکې یو او خپلواک شوهٔ او ځنې نور د یووالي او آزادي په لور روان دي. پدې سیاسي پړاو کې د پښتنو د یووالي او ازادي چغه پورته کول یو تاریخي ضرورت دی. ددې هدف د پاره د پښتونخوا د ملي او جمهوري ګوندونو او قامي مشرانو پیوستون او یو موټې کیدل په کار دي چې د سیمې په سویه سره په یوه جبهه یا محاذ کې راټول شي او د پښتون ولس د یووالي او ازادي هلې ځلې تودې کړي.

تر هغو چې لر او بر پښتون یو شوی نه وي، نه بر پښتون او نه لر پښتون د عزت خاوند کیدی شي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتون انجمن
# PASHTOON ANJUMAN (SOCIETY)

## د المان د فرانکفورت په ښار کې د پښتون انجمن
## د اجرائیه کمیټو د غونډې تصویب

لومړی: د پښتون انجمن د المان د څانګې یو شمیر غړو د انګلینډ څخه د راغلي هیئت په ګډون د ۱۹۹۱ کال د جون د میاشتې په ۲۲ او ۲۳ په فرانکفورت کې غونډه وکړه او په بن کې د انجمن د ۱۹۹۱ کال د اپریل د میاشتې د دویم نړیوال کانفرنس ارزیابي یې په هر اړخیز ډول سرته ورسوله او دا لاندې پرېکړه یې صادره کړه:

الف - د بن ۲۱ او ۲۲ تاریخ د پښتون انجمن غونډه د پښتنو د یووالي او د هغه د اهدافو په لور یو ستر بریالیتوب تکمیل کیږي چې د پښتون انجمن په بنسټیزه کې ورته اشاره شویده. په غونډه کې برخه والو د پښتنو او پښتونولۍ په احساساتو سره د غونډې اهداف په بریالیتوب سره څرګند کړېدي.


ب - د غونډې ګډون کوونکي د پښتون انجمن د المان څانګې د موقت کمیسیون کړنه د ښاغلي ډاکټر درویزه په مشرۍ سره د قدر وړ ګڼي.

ج - هغه یو څه نیمګړتیاوې چې په کار کې وې، هغو ته ګوته ونیول شوه او په راتلونکې کې به د هغو په اصلاح کې د انجمن د غړو له خوا ګډ زیار ایستل کیږي.

دوهم: د پښتون انجمن د المان څانګې یو شمیر غړو د ۱۹۹۱ کال د جون په ۲۲ او ۲۳ په فرانکفورت کې غونډه وکړه او د بنسټیزې د مسودې په ارتباط چې مربوط کمیسیون ترتیب کړې وه دا لاندې پرېکړه صادره کړه:

الف - مربوط کمیسیون د بنسټیزې په لوی طرح کې زیار ښکلي دي چې هغه ته د قدر په سترګه کتل کیږي. دغه مسوده دې د المان د پښتون انجمن د څانګې په لویه جرګه کې طرح او نهایي فیصله دې یې د انجمن مرکز انګلستان ته واستول شي.

د میړو وده له تا ده لویه خدایه
هسک او ځمکه نغښتي ستا ده کردګاره
د پښتون دا وور کوړګي ورته ازاد کړې
چې د چا په مله یې تګ نه وي په لیار



د پښتون انجمن د دویم نړیوال کانګرس یوه ځنډه


پدې ګڼه کې:

د پښتون انجمن
د نړیوالې غونډې
راپور- ۱ او ۷٤ مخ

مقالې:
ډاکټر درویزه اڅکزی
- ۳ تر ۷ مخ

ډاکټر نواز بنګښ -
۷ او ۷۲ مخ

غلام محمد زرملوال
- ۹ تر ۱٤ مخ

افراسیاب خټک -
۷۰ تر ٦۱ مخ

ډاکټر حاذق -
٤۱ او ٦۱ مخ

ډاکټر کبیر ستوری -
۲۹ او ۵۹ مخ

محمد حسن عزیز -
۲۲ تر ۲٤ مخ

لیکونه، پیغامونه او
تصویبونه - ۲٤ تر
٤۹ مخ



Contact Adress:

Najm-Us-Sahar
14 Meadow Rise
Bourneville
Birmingham B30 1 UZ
United Kingdom Tel:(021)4140121



د چاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

# TOLE PASHTUN

2nd Issue Apr.-Aug.,1991



غازي امان الله خان

Special issue
on
the occasion of

PASHTUN ANJUMAN
SECOND INTERNATIONAL CONFERENCE

Contact Adress:
Najm-Us-Sahar
14 Meadow Rise - Bourneville
Birmingham B30 1 UZ
United Kingdom
Tel: (021)4140121

important in ensuring the integrity of the country as can be seen from the history of Afghanistan. No weapons or machinery can replace manpower. The Russian invasion of Afghansitan and the American invasion of Iraq has proved that the military machine is useless. It has been proved repeatedly, since the begining of colonialism that the nations of the third world do not stand a chance of winning in face to face confrontation with high-tech aggression of imperialist armed forces. The successful national liberation movements of the third world have always engaged in long drawn out partisan struggles and this continues to be the case. For example Afghan resistance against Russia.

If only Saddam Hussain and other political leaders of the third world had learnt this lesson and diverted the greater part of their military budgets to economic development and cultural and social tasks, it would have brought them great successes and solved many of their national problems.

This study has shown that pashtoonwalee plays a special part in the life of Pashtoons. It is neither an uprooted nor out of date system. It is the basis of pashtoon ideology and their traditional system and indeed it is an inseperable part of their lives. Those who try to forget Pashtoonwalee and try to copy Eastern or Western systems appear to me to be like those who try to convert Gold to Zinc.

## PASHTO AND PASHTOONWALEE

PASHTO & PASHTOONWALEE are inseperable parts of the Pashtoon way of life. Pashtoonwalee is social, political and legal system based on Jirgah. Jirgah, according to the german Professor W.Stein, evolved some 15,000 years ago during the early developing stages of the human society.

This suggests that the Pashtoon nation, which still practices the Jirgah system, possesses an extended history and great culture spread over a long period of time. Due to these reasons the word Pashtoon has become a social phrase in its own right and serves as a common link between pashto and Pashtoonwalee.

Pashtoonwalee has three foundations. The first and foremost is Pashto. Pashto is not only a language but a collection of different qualities which are "Patt" (honour), "Shaigara" (kindness), "Toora" (bravery) and "Wrorwalee" (brotherhood). Every Pashtoon

rich or poor, must possess these qualities. As Khushal Baba verifies:
"All pashtoons, from Kandahar to Attock, are united in preserving, overtly and covertly, their honour."

The above quoted verse not only identifies the boundary of Pashtoon territory but also explains that Pashto is a collective quality of all Pashtoons. "Nang" a kind of loyalty or pride (e.g. fighting to defend your family's or country's honour) is a description of Nang), like "Patt", "Marana" (courage) and "Toora" is a part of Pashto. In these tenets no Pashtoon is less than any other. it is this equality in tenets of Pashto, that has resulted in a collective sense of democracy in Pashtoon society.

The second foundation of Pashtoonwalee consists of certain customs which form a code of conduct, e.g. "Nanawatai" (seeking protection by entering a household), "Soola" (peace), "Roogha-jora" (reconciliation) and many more.

The third foundation of Pashtoonwalee is "Paighore" or gibes. This usually involves questioning a pashtoon's honour and other qualities associated with pashtoonwalee and therefore the person affected has to act to defend himself.

Any system must be based on an ideology which must be observed and protected and must be propagated. The ideology of Pashtoonwalee is "Pashto". It is observed by holding Jirgahs and its place of propagation is the home and the "Hujra" (a communal meeting place).

As is demonstrated by this exposition of Pashto and pashtoonwalee, Pashtoons are a single group, but they are also geographically as well as religiously united. Above all, however, pashtoons are economically united.

In spite of all our lustrous heritage we are in a wretched situation because we have been divided by force and are prevented from uniting into a political unit which is the only solution for our present day problems.

The new political era in the world heralds the unification of all divided nations e.g. East and West germany have reunited and so have North and South Yeme. Other nations of the world are on the path of gaining such rights hence it is our historical need and our right to raise our voice for Pashtoon national liberation and unification.

All political leadership of the national and democratic parties of Pashtoonkhawa and other social dignatories must unite on one broad based platform to deliver the Pashtoon nation from its predicament. The fate of the Pashtoon nation their dignity and honour depends upon this unity.

In this issue:

Pashtun Anjuman international conference: a report
Page 1 and 74

Articles:
Dr. Darweza Achakzaiy Page 3 to 7

Dr. Nawaz Bangash
Page 7 and 72

G.M. Zarmalwal
page 9 to 14

Afrasiab Khatak
Page 70 to 61


Dr. M. Sediq Haseq
Page 41 and 61

Dr. Kabir Storai
Page 21 and 51

M. Hasan Aziz
Page 22 to 24

Letters and resolutions
Page 24 to 49

د غوټۍ د ښکلي خولې نګهت راخپورشو
چې راغلی د امید د بڼ بـــهار
رڼایي ده پښـتونخوا کې کته پورته
د ارزو لمر اوچت شوی په کهـسار



Contact Adress:

Najm-Us-Sahar
14 Meadow Rise
Bourneville
Birmingham B30 1 UZ
United Kingdom Tel:(021)4140121

د چاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

# سباوون

میاشتنی ټولنیزه، سیاسي، کلتوري او ادبي خپرونه


اووم کال

د ۱۳۷۹ کال
وری



لومړی ګڼه

د ۱۴۲۱ هـ ق کال
محرم الحرام




پرله پسې ګڼه
۲۰

د ۲۰۰۰ کال
اپرېل

**تیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه**
**زه په دې افتادګۍ کښې لوی ګړنګ یم**

---

د ښاغلی زمانی اقتفا د سباوون د خپرونی د مشاعرې د پاره

ډاکټر کبیر ستوری، جرمنی

۲۲ نوامبر ۱۹۹۹

## سودا

د ژوند بازار کې بیله بیله دهر چا سودا ده
څومره توان هغومره غټه یې رښتیا سواد ده
خدایږو ټولنه دانسان د تضادونو کوردی
په هر یو ګوند، ډله ټپله کې جدا سودا ده
څوک د خپل ځان څوک د مزدور او څوک د قام غم خوري
چا سره زړه کې دانسان دخوشحالتیا سودا ده
څوک د ژوندون جړې وباسي انسانان وژني
د چا دماغ کې د ژوندون د پرمختیا سودا ده
چې د قامي وحدت ګلان د پښتون وغوړېږي
د قلم څوکه کې دستوری بس همدا سوداده